واحد فقيري ۲۰۱۲/۰۱/۱۷

# فدراليزم، سنتراليزم، او که بنه حکومت؟

د برلين له ناروا مجلس سره سم د فدراليزم او سنتراليزم موضوع يو ځل بيا ګرمه سوه. که څه هم له ډيرو کلونو راهيسې، دا مناظره د افغان پالتيکس په چپي، اخواني، نشنلستي، او نورو روشنفکري جريانونو کي موجود وه او ده، خو په برلين کي د دوستم، محقق، ضيا مسعود، او جمع د متحده ايالاتو په کانګرس کي د کلفورنيا غيټ او نيمچه ليوني استازي روراباکر وروستی غونډي دا سياسي جدل بيا را برسيره کړ. ښاغلی روراباکر يو عجيبه غوندي سياسي مخلوق دی. هغه د افغان جهاد څخه يوازي پکول، شورا نظار، او د شمال ټلوالي بنه ډير جنګسالاران پيژني، او اوس هم په کانګرس کي د همدی ناکامي او بن بست ته رسيدلي جناح ملاتړ او پروموشن کوي.

اوس نو، ايا د افغانستان لپاره فدرالي که مرکزي نظام بنه دی؟ د افغانانو په سياسي ادبياتو او ګرداوونو(بحثونو) کي فدراليزم عموماً د تجزيی مترادف ګڼل کيږي. زياتره ګومان کوي چي فدراليزم به بالاخره هيواد تجزيه کاندي، نو بايد مخه يی ونيول سي. په هيواد کي د فدراليزم تاريخ او غوښتنه د ۱۹۶۰ کلونو ته رسيږي. هله، ستمي، ماوويستي، او ځينو نورو اقليتي چپي ګروپونو د فدراليزم غوښتنه د خپلو سياسي مفکورو يو مهم اصل ټاکلی وو. هغوی د « ملي ستم» خبري کولی. د پښتون هژموني پر خلاف يی مبارزه کوله، او نور اقليتونه يی تر ستم او تبعيض لاندي ګڼل.

د ثور کودتا او په تيره بيا د شوروي اشغال سره سم د ملي خلاصون او سراسري جهاد وزن او ضرورت د فدراليزم مسأله څه سره کړه، او قريب کرده ولس د شوروي سره ډغرو وهلو ته لمريتوب ورکړ. بلخوا، سياسي واقعيتونو هم د ملی وحدت ضرورت تشويقاوه. خو بياهم د جهاد په دوران کي اکثره جهادي احزاب پر قومي او فرقوي ليکو باندي تنظيم او ويشل سوي ول. سيمه ايزي ليکي معلومي وی. برعلاوه، په کابل کي د يوه کمزوري حکومت شتون د سيمه ايزو تمايلاتو او اشخاصو د لا تقويه کيدو لپاره بنه فرصت برابرکړی وو. نو بنآً د ۱۹۸۰ را وروسته د تجزيی تهديد تل د هيواد په سياسي بطن کي پروت او موجود دی.

د ۱۹۹۰ په کلونو کي، د طالب اکا په بنه عبارت « د شر او فساد په دوران کي» افغانستان عملا اوباش فدراليزم تجربه کاوه. مسعود، دوستم، مزاري، محقق ، سياف، حکمتيار او نورو وارلارډانو پر خپلو وړو سلطنتونو باندي راج چلاوه. طبعآً، د شر او فساد په کلونو کي مرکز لا کمزوری او چاپيريال لا غښتلی سو. له سنټره فرار يو موډ او فيشن وو. د تاجيک، هزاره، اوزبک، او پښتون تر مينځ کشمکش لا زيات سو. وخت ناوخت جنګونو مطلقآً قومي بڼه غوره کوله او سخت مرکګاني کيدل. ښارونه له ميډل کلاس څخه ورو ورو تخليه کيدل، او ښاري طبقات يو په بل پسی منهدم او ړنګيدل. ښاري ژوند او فرهنګ کمرنګه کيده، او سياسي خپلسري او ډانګيتوب خوريده. د سنټر- کابل- لوټ او تالان په ملي سپورټ او عنعنی بدل سو. د شر او فساد په «خرمبار» کي ملي يووالي او روحيی ته کاري صدمی ورسيدلی. لنده داچي د افغان اقوامو تر مينځ بی اعتمادي ډيريده.

د طالبانو په دوران کي، که څه هم وارلارډيزم قريب ختم سو، خو د طالبانو سلطه د پښتون هژموني سره مترادفه سوه. د طالبانو په مقابل کي، د مخالفانو بغاوت له مرکزه د هزاره ، تاجيک او اوزبک تيښته تقلي کيدله. که څه هم نژدی وو چي طالبان د شمال ټلوالي کمبله ورټوله کړي، خو په امريکا کي د سپټمبر وحشت او بريريت هر څه سرچپه کړل. په عوض کي، طالبان را نسکوره سول، او د شر او فساد استازو بيرته د مرکزي حکومت واګي تر لاسه کړی.

د کرزي صاحب په حکومت کي، د سنټر او سيمو تر مينځ کشمکش د پخوا په شان تل محسوسيږي . مرکز په کلي توګه فاسد، کمزوری، او بی غمباش دی، او ولايات او سيمي د پخواني جنګسالارانو تر مينځ عملا ويشل سويدي. که څه هم رئيس صاحب کله کله امريکا او ايتلافي ملګرو ته شيرک کيږي، خو پر جنګسالارانو باندي نه ورځي. د بلخ


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

والي،      عطا نور، عملا پر رئيس صاحب او مرکزي دولت باندي انتقاد او ملنډي وهي، خو ارگ له ډاره سوڼ نه وهي، او يو مرموز نرمښت او کرنش کوي.

په افغانستان  کي، د فډراليزم بدبختي دا ده چي جنگسالاران يې ملاتړ کوي.  همدا وجه ده چي فډراليزم د افغانانو په مينځ کي يوه رټل سوې  کلمه ده.  خلک ترې ډار او وحشت لري، ځکه مدافعين يې  بدنام  خلک دي.  په بل عبارت، فډراليزم هيڅکله د ښه حکومت کولو په منظور ندې وړاندې سوې، بلکي له سنټر څخه د تېښتي په مقصد پيشکش سوې دې. نو بنآ، د فډراليزم په باب علمي او مفيد بحث هم ندې سوې.

بل پلو، په افغانستان کي  د سنټراليزم يا مرکزي نظام  تجربې هم چندان ښه نتيجه نده ورکړې.  که چيري د کرزي صاحب اوسنی فاسد او بيغمباش نظام د سنټراليزم  بيلگه وي، دا تجربه سراسر ناکامه بويه.  د هغه مرکزي نظام استازيتوب چي  کرزی صاحب او انډيولان يې کوي، هغه د افغانستان هيڅ درد او رنځ نه سي دوا کولای، بلکي نوي ستونزي او بحرانونه خلقوي.  لنډه دا چي که چيري يو حکومت بداو بې کفايته وي، که مرکزي او که فډرالي وي مخ يې تور او رنگ يې ورک.  دا ډول حکومت مصيبت وي، غم وي، او ازار وي.

که چيري د کرزي صاحب په مرکزي حکومت کي فقط ۲۵ يا ۳۰ کورنۍ د هيواد پر اقتصاد او نظام باندي خپل ناروا انحصار ټينگ کړی وي، دا سنټر پرتله له تاوان څخه بل هيڅ نه سي ايجادولای.  د کابل اوسنی حکومت نه مرکزي او نه هم فډرالي دی، بلکي دا دوپه او غل حکومت دی.  دا د بانکونو د غلو، قماربازانو، او د مځکو مافيا حکومت دی او بس.

نو بنآ، نه رياستي او نه هم پارلماني نظام، نه مرکزي او نه هم فډرالي سيستم اهميت لري، څه چي اهميت لري هغه ښه، مسول، او باکفايته حکومت دی.

په پاي کي، د چين  فقيد مشر او د هغه هيواد د رواني اقتصادي معجزې طراح، ډينگ شياووپنگ، د ښه او موثر نظام په باب ويلي ول:  «دا مهمه نده چي  د پيشي رنگ تور او که سپين وي، مهمه دا ده چي پيشو موږکان ونيسي.»  اوس هم ، دا مهمه نده چي  حکومتي نظام فډرالي او که مرکزي وي، مهمه دا ده چي حکومت کار ورکړي او خپل مسوليتونه او وظايف تر سره کړي.  او بالاخره، د يو داسي پيشو حکومت د جوړيدو په هيله چي دوستم، محقق، مسعود، اوکرزي غوندي موږکان ونيسي!

والسلام


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ